# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د انتقالي حکومت د فقهې شورا له لوري د شنبې ورځ د رمضان لومړۍ ورځ اعلان کړه او په دې سره يې په سوډان کې مسلمانان مغشوش کړل، په داسې حال کې چې د شریعت له خوا د میاشتې پیل د جمعې په ورځ ثابت شوی و!

په سوډان کې د مسلمانانو د لا ګېچ کېدو لپاره د اسلامي فقهې شورا اعلان وکړ چې سبا (جمعه) د شعبان ۳۰مه ورځ پوره کېږي او د ۲۰۲۰م کال د اپرېل په ۲۵مه د شنبې ورځ د روژې لومړۍ ورځ ده. دا له شریعت څخه سرغړونه ده او د سعودي عرب له لوري چې مخکې په کوم شي لاس پورې شوی و، هغه د سپوږمي لیدل وو، چې هغه پرون په یو شمېر اسلامي هېوادونو کې ونه لیدل شوه او دوی نن ورځ پنجشنبه د شعبان دېرشمه ورځ پوره کړه، نو له همدې امله سبا (جمعه) به د رمضان د سپېڅلې میاشتې لومړۍ ورځ وي.

**موږ حزب التحریر- ولایه سوډان د مسوولیت او صداقت پر اساس غواړو روښانه کړو:**

**لومړی:** د فقهې شورا د پنجشنبې ورځ د شعبان ۲۹مه وبلله، موږ د ۲۰۲۰م کال د اپرېل په ۲۰مه د دوشنبې په ورځ اعلامیه خپره کړې وه، چې پکې ویلي مو وو، د فقهې شورا پر پنجشنبه خلک لار ورکي کوي، چې د میاشتې په لیدلو سره شعبان بشپړ کړي.

**دويم:** د سعودي عربستان اعلان چې د سپوږمی لیدل پنجشنبه و، د ۱۴۴۱ هـ.ق کال د شعبان ۳۰مه چې د ۲۰۲۰م کال د اپرېل میاشتې له ۲۳مې سره سمون خوري. سربېره پر دې چې د کتلو په ځارلو سره هغه سره مخالف و چې دا د شعبان ۲۹مه ده،

تر دې دمه يې د شعبان په ۳۰مه سپوږمی ليدلی او ليدل يې د شرعي شرايطو له مخې رامنځ ته شوي دي، چې دا په نړۍ کې د ټولو مسلمانانو لپاره کافي ده چې خپله روژه پيل کړي؛ ځکه چې دا يوازې يو سپوږمی دی، د سوډان يا نورو هېوادونو لپاره ځانګړی سپوږمی نشته.

**درېيم:** يوه ډېره مهمه پوښتنه چې موږ يې په سوډان کې د فقهې شورا له ورونو څخه کوو، ايا تاسو د شعبان پيل کتلی و او ستاسو د څېړلو پايله د ۲۰۲۰م کال د مارچ ۲۶مه د پنجشنبې ورځ وه!؟ که ستاسو ځواب هو وي، نو بيا مو ولې په خپلو خبرو کې د ۲۰۲۰م کال د مارچ ۲۵مه د شعبان پيل ياد کړ!؟

**څلورم:** څه چې د انتقالي حکومت د فقهې شورا وکړل، هغه د خلکو مغشوشول او له کړکېچونو څخه لرې ساتل وو.

**پنځم:** په سوډان او نورو اسلامي هېوادونو کې پر مسلمانانو د شريعت حکم واجب دی چې سبا د جمعې ورځ ده؛ ځکه چې د مياشتې د شرعي ليد تصديق شوی و. دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم له امر سره سم دی، چې فرمايي:

**«صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلَاثِينَ»**

**ژباړه:** ***«کله چې مو مياشت وليدله روژه ونيسئ او کله مو چې مياشت وليدله روژه بس کړئ، که چېرته د ليدلو امکان يې نه و (ډېره وريځ وي) بيا نو دېرش ورځې پوره کړئ.»***

او هغه څه ته پام مه کوئ چې د فقهې شورا یې یادونه کړې؛ ځکه چې د شورا کار خلک دې ته اړ کوي چې د ناروا کار مرتکب شي، چې د روژې په ورځ روژه ماتوي، نو د خالق په نافرمانۍ کې د هېڅ مخلوق پېروي نه کېږي.

د هغه چا لپاره چې د حاکم د اطاعت خبره کوي، د خلافت د راپرځېدلو وروسته نن ورځ مسلمانان هېڅ حاکم نه لري. لکه څنګه چې د نن ورځې حکام  د شیطان پیروي کوي او پرته له هغه څه چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي دي، حکم کوي. له هغه حاکم څخه اطاعت واجب دی چې د مسلمانانو د خلیفه په توګه د شرعي ژمنو پر اساس ورسره بیعت شوی وي، کولای شي د مسلمانانو تر منځ اختلافات له منځه یوسي. د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره باید ډېر کار وکړو؛ دا هغه څه دي چې نن ورځ پر مسلمانانو فرض دی.

**[لِمِثْلِ هَذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ]**

**ژباړه:** ***«د همداسې بریا لپاره باید عمل کوونکی عمل وکړي» [الصافات: ٦١]***

**ابراهیم عثمان (ابو خلیل)**

**د حزب التحریر- ولایه سوډان رسمي مطبوعاتي ویاند**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د شعبان ۳۰مه**

**۲۰۲۰م کال، د اپرېل ۲۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۴۸**